# د پښتو په طبع زاد منظوم روماني قيصو کښې مافوق الفطرت عناصر :يوه تجزياتي مطالعه

# Supernatural elements in Pashto Folk (Tabazad) poetic romantic stories: An analytical study

**Noor ul Basar**★

**Abstract**:

There are two types of Pashto romantic stories .One is that which belong to this land which is also called Folk romantic stories and other is that which has been translated from other languages.ie Arabic, Persian etc. In translated stories (Dastan's) there are supernatural elements because it is the characteristic of dastan, but the Folk (Tabazad) poetic romantic stories of Pashto is not safe from these supernatural elements. These elements are also found in Pashto Folk poetic romantic stories, the details of which are given below. And researchers working on fictional literature/Dastan will take benefits from this article.

**Key words**: Pashto, Folk stories, Dastan, Romantic stories, pernatural elements.

د پښتو ژبې په قيصه ايز ادب کښې روماني قيصې د ګوتو په شمېر دي ،کومې چې ددې خاورې د وسېدونکيود ټولينز ژوند عکاسي کوي. دغه روماني قيصو ته ځنې خلق داستانونه هُم وائي اګر چې د پښتو په طبع زاد روماني قيصو او داستانونو کښې د فن او فکر په حواله ښکاره فرق دے.

په روماني قيصه او داستان کښې فرق ما خپلې د پي.ايچ ډي په مقاله کښې په تفصيل سره د واضح کولو کوشش کړے دے ،چې د هغې نچوړ څۀ په دې ډول دے. د افسانوي ادب بنيادي جز قيصه ده ځکه چې د قيصې نه بغېر د ډرامې،ناول،داستان او افسانې په وجود کښې راتلل ناممکن دي. دغه قيصه په مختلفو چوکاټونو کښې د فکشن مختلف شکلونه اختياروي. خيال بخاري د قيصې په حقله ليکي چې ،

"قيصه يا قيصۍ په لغت کښې ګڼې معنې لري :.(۱) يوه تاريخي واقعـــه يا د هغې بيان. (۲)يوه تاريخي کارنامه ياکتاب.(۳)يوتاريخي ليک يا دستاوېز.(۴)هغه واقعات يا حــادثات يا د حادثاتو سلسله کومه چې اوليکلے

---

★ PhD Scholar Department of Pakistani Languages , Allama Iqbal Open University, Islamabad

شوه یا به ضرور اولیکلے شي .(۵) د هغو حادثاتو بیان کوم چې پېښ شوي دي یا داسې ګڼلے شوي وي لکه چې پېښ شوي وي .(۶)د چاد ژوند یا د ژوند د څـهٔ برخې د واقعـاتو حال بیانول .(۷)حقیقي یا فـرضي واقعات یا خبرې کومې چې یو ویونکي د خپل ځان یا اورېدونکي د تفنّن طبع د پاره جوړې کړې وي .(۸) روایتي ،شاعرانه یا عاشقانه (روماني(تاریخ کښې د واقعاتو تسلسل لکه ناولو نظم یا ډرامه کښې .(۹)یوه واقعه رېښتینې وي او که فرضي خو چې د بل د خوشحالولو یا وخت تیري د پاره جوړه کـړے شي .(۱۰) یوه واقعه رېښتینې وي او که فـرضي چې د بلې څهٔ خبرې د وضاحت د پاره ووئیلے شي .(۱۱)یوه بې بنیاده اطلاع یا د ځانه جوړه کړې خبره یعنې دروغ "[1]

د پورته تعریف نه دا برېښي چې قیصه ځان له یوه اکائي ده ,که هغه تاریخي وي ، که روماني وي او یا د چا د ژوند حالات ، که دروغ وي او که رښتیا وي خو لکه د داستان (د کوم ذکر چې وروستو راروان دے) دومره خوره وره نهٔ وي چې ذهن ورسره یو خوا بل خوازغلي رازغلي ،بلکې په دې کښې به ارو مرو وحدت تاثروي.د قیصې بل خاصیت دادے چې په دې کښې به واقعه په یو ترتیب او تسلسل سره بیانیږي لکه ساجد محمد شائق چې په "ځرګنده خزانه" کښې لیکي چې"د تېرو شوو متعلقه واقعاتو په ترتیب سـره بیانول قیصه وي قیصه د ژوند اهمې پېښې ځان کښې رانغاړي د قیصې مقصدیادګار،سبق آموز،حېرت انګېز یا زړهٔ راښکونکې پېښې (واقعات)بیانول وي."[2] قیصه د یوې واقعې یا حادثې لیکل یا بیانولو ته وائي-قیصه د موضوع او فن په اعتبارسره هُم قسمونه لري لکه حکایت،رزمیه،تاریخي ،اساطیري ،دځناورو او روماني قیصې-رومان د قیصې یو قسم دے بلکې که مونږ دا ووایو چې رومان د داستان یو عنصر دے نو بې ځایه به نهٔ وي ځکه چې تنویر حسېن وائي "داستانوں کا ایک اہم عنصر رومان بھی ہے رومان تخیّل ہی کی پرواز ہے"[3]په داستان کښې چې چرته هُم خیال آزاد پرېښودے شوے وي نودغه رومان دے که هغه د عشق په مېدان کښې وي که د رزم بزم په مېدان کښې وي که چرته د شدیدو جذباتو په شکل کښې وي یا د غم او خوشحالۍ په شکل کښې وي دا ټول کېفیات د داستان ښکلا زیاتوي نو ځکه رومان د داستان یو عنصر ګڼلے شي- بل طرف ته داستان ځانله یو خپل فراخه مېدان،ګڼ شمېر

موضوعات او قسمونه لري. پوهانو د داستان ځانله ځو عناصر ترکيبي ښودلي دي د هغې خلاصه دا ده ،

1 . دا چې داستان به اوږد وي او په قيصه کښې به پکښې قيصه پېدا کيږي . ددې قيصو يو بل سره تړون هُم کېدے شي او د يو بل نه بېلې بېلې هُم کېدے شي . د مثال په توګه که مونږ داستان "الف لېله"وګورو نو دا د مختلفو موضوعاتو بيلې بيلې قيصې دي . بله دا چې که چرې د ټول داستان موضوع يو وي نو دې کښې به د اصل واقعې سره سره وړې وړې ضمني قيصې هُم مو جودې وي چې د داستان د طوالت سبب جوړېږي.

2 . په داستان کښې به ما فوق الفطرت عناصر وي چې هغه به نۀ حقيقت وي او نۀ به ئې د حقيقت سره څۀ تعلق وي او نۀ به ئې ذهن منلو ته تيار وي لکه ښاپيرۍ پېريان او دېوان وغېره . بلکې سيد وقار عظيم خو ليکي چې ، "--- مشکل يہ ہے کہ يہی غير فطری عناصر داستان کی فطری عناصر ہيں"[4]

3 ـــــ په دې کښـــې به مثالي کردارونه وي لکه که يو طرف ته دېو دے نو بل طرف ته د داســـتان مرکزي کردار هُم د دېو نه کم نۀ وي . لکه چې سيد وقار عظيم ليکي ،

> "--- اس مثالی دنیا میں فن کا ایک تقاضا اور ایک مطالبہ ہے اور وہ یہ کہ اس دنیا کی ساری چیزوں میں ایک عجب کے باوجود آپس میں ایک خاص تناسب ضروری ہے --- یہاں دیو ہیں تو ضروری ہے کہ انسان بھی ایسے ہوں کہ ان کے مد مقابل بن سکیں پریوں کا حسن ملک فریب ہے تو عشق بھی جنون فطرت ہو ۔ اس دنیا کی ہر بات کی تعمیر اسی دنیا کی ہر بات سے ہونی چاہئے "[5]

هُم دغه وجه ده چې داســـتان اورېدو ســـره به په اورېدونکي کښــــې د همت، جرات او د برترۍ احساس پېدا کېدو او د هغۀ په زړۀ کښــې به د تُورې ،مړانې او مهماتي ژوند شوق او هڅه پېدا کېده .

4 . د داستان لوستلو سره نۀ صرف د قيصې نه مزه اخېستلے کېدے شي بلکې د تېر وخت تهذيب و ثقافت،ټولنيز ژوند او دودونه او دستورونه هُم دخپلو ټولو ښکلا ګانو سره د سترګو مخکښې ودرېږي . عرض دا چې لوستونکے نۀ صرف يو تخيلاتي دنيا ته لاړ شي بلکې د تېر شوي وخت يو سپېڅلے عکس هُم ويني .

5 ـ په داستان کښې به د خېر او شر تر مینځه جګړه وي او په اٰخره کښې به برے د خېر وي ـ نورالحسن نقوي لیکي چې " داستان میں ہمیشہ سچ کی جیت ہوتی ہے ہیرو کیسی ہی مصیبت میں کیوں نہ پھنس جائے ہیں یقین ہوتا ہے کہ آخر میں وہ اپنے سارے دشمنوں کو مات دے دے گا"[6] که څومره هُم داستانونه وکتلے شي نو په شروع کښې به د شېطاني قوتونو غلبه وي او نېک کردار به د ظلم په ژرنده دلیږي قدم په قدم به فرېب او دهوکه وي چرته به د کامیابۍ لار نۀ ښکاري د مصیبتونو یو نۀ ختمېدونکې سلسله به روانه وي ولې په اٰخر کښې به داسې ماحول جوړ شي چې باطل به ختم شي او حق به برے ومومي ـ انسان د شروع نه د شېطاني قوتون خلاف دے که هغه په داستان کښې وي او که په حقیقي ژوند کښې اوبیا داستان لیکونکے که یو خوا ددې شېطاني اوباطل قوتونو او کردارونو په ذریعه په داستان کښې دلچسپي پېدا کوي نو بل خوا د هغۀ یو اصلاحي مقصد داهُم وي چې که هر څومره باطل قوتونه مضبوط وي خو د حق مقابله نۀ شي کولے ـ

6. داستان د لیکلو او لوستلو نه زیات د وئیلو او اورېدلو سره تعلق لري نو ځکه د داستان یو خاصیت دا هُم دے چې په دې کښې به خطابت او رنګیني وي یعنې انداز بیان به ئې خطیبانه وي د اورونکي اواز کښې به رعب وي د خلقو د توجه راګرځولو پوره هنر به لري انداز بیان به ئې داسې وي چې سامعین به ستومانه کېدوته نۀ پرېږدي وخت په وخت به پکښې رنګیني پېدا کوي هره واقعه به دومره په تفصیل سره بیانوي چې ګنې داستان ګو دا هر څۀ په خپلو سترګو لیدلي وي او هره خبره به دیو مکمل دلیل سره دپېش کولو کوشش کوي ـ

د داستان د عناصر ترکیبي بیانولو نه پسته ضروري ګڼم چې په داستانونو کښې د استعمال شوو اصطلاحاتو سره سره د هغۀ د مختلفو قسمونو سر سري جائزه وړاندې کړے شي ـ

1- مافوق الفطرت (Supernatural):دمافوق الفطرت اصطلاح په داستانوي ادب کښې د هغه کردارونو، واقعاتو او خبرو د پاره پکارولے شي چې هغه یا خو د فطرت د اصولو خلاف وي چې سائنس ئې نۀ شي ثابتولے،او یا ئې ذهن منلو ته تیار نۀ وي چې مونږ ورته ناشونې یا ناممکن هُم وئیلے شو ـ محمد عبدالله خوېشګي په فرهنګ عامره کښې لیکي چې، مافوق الفطرت: فطرت سے اوپر، غیر مادی، ناہنجار[7] په قیصه یا داستان کښې ددېوانو،ښاپېرو جادوګرواو مارغانو وغېره کردارونه د مافوق الفطرت په زمره کښې شمېرلے شي ـ

2۔توہمات: (Superstitions): د Superstitions لغوي معنٰی ده Unreasoning belief in or fear, something mysteriousضعیف الاعتقادی، اوہام پرستی، توہم (ج توہمات)[8] توهُمات هُم ماوراءُ لعقل اعتقادات دي لکه د کارغهٔ اواز سره د مېلمه راتلل او په سفر کښې مخې ته د تورې پیشو تېرېدل سپېرهٔ ګڼل یا په خاص ورځ یو کار شروع کول یا نهٔ شروع کول هُم د ذهن نه بالا تر خبرې دي.لکه صدر خان خټک چې د آدم خان درخانۍ په رومان کښې لیکي چې،

په شـــنبه پــــه دوشـــنبه بـــه زمــــــا وروره
د مشـــرق پـــه لـــور هـــر ګـــز نـــهٔ ووت لـــه کـــوره
ســـه شـــنبه یـــا چارشـــنبه بـــه ئـــې اے لالـــه
اختیـــــاط کـــــړه لـــــه رفتنـــــه د شمـــــاله
هُـــم ئـــې تـــل لـــه منحوســـه ورځـــو پېشـــتره
دلـــے ځـــان پـــه هـــره میاشـــت ســـاتهٔ یکســـره[9]

3. اساطیر:اساطیر د اسطوره (Myth )جمع ده چې معنٰی ئې ده قیصې.په عربي اردو لغت المعجم الوسیط کښې د الاسطوره معنٰی ده (ا) خرافات (۲) بے اصل حکایت (ج) اساطیر[10]په پرېکټیکل کمبائنډ ډکشنرۍ کښې د Myth معنٰی ده A fable; creation the imagination افسانہ، داستان، خیالی چیز یا وجود، دیومالا، اسطوره[11] ډاکټر ګیان چند د متهـ په حقله لیکي چې ،" متھ (Myth) یہ وہ روایتیں ہیں جو مذاہب اور دیومالا کے پر اسرار عقائد اور توہمات کی تاویل کرتی ہیں، ان کی کوئی تاریخی یا سائنٹفک حیثیت نہیں ہوتی۔ لیکن قدامت پرست حضرات اس کی صحت میں شبہ نہیں کرتے۔ اکثر اوقات یہ مذہب کا لبادہ اوڑھ کر ظاہر ہوتی ہیں۔"[12]

4- فېنټسي(Fantasy): ددې اصطلاح لغوي معنٰی ده" Imagination خیالی پلاو، خواب و خیال، تصور تخیل، تخیل، میٹھا سپنا، خواب کی باتیں imaginary ،غیر حقیقی، وہمی، خیالی wild and strange نرالا، عجیب و غریب Fantastically(adv.) عجیب و غریب انداز سے (خیالیہ)"[13]

ډاکټر عبدالشکور او ډاکټر نجیبه عارف په خپله یوه مقاله کښې د فېنټسي (Fantasy) په حقله لیکي چې،

"فینٹسی کسی قصے یا کہانی کا وہ عنصر ہے جو بے بنیاد، حقیقت کے برعکس، وہم پر مشتمل، دوسری دنیاوں کے متعلق، عجیب و غریب، طلسماتی، مضحکہ خیز اور بے مہار تخیل کی پیداوار ہے۔ اس میں ناقابل یقین واقعات کی بہتات ہوتی ہے۔ دیوی،

دیوتا، جن، بھوت،چڑیل،پریاں، جانور، پرندے، مشینیں،روبوٹ،صاحب کرامت ہستیاں، جادو گراور فوق العام ہیرو شامل ہوتے ہیں۔"[14]

5- فېبلز(Fables) دغه قسمه قيصې په کتابونو کښې د حکيم ايسپ يا د لقمان حکيم د قيصو په نامه ياديږي د دغه قيصو باره کښې اسير منګل ليکي "دنیا میں سب سے پہلے یونانی داستانیں سامنے آتی ہیں جسے Aesop's Fables کہا جاتا ہے انگریز مستشرق میجر راورٹی نے انہیں پشتو میں بھی ترجمہ کیا ہے"[15] د قيصو دا قسم هغه وړې سبق آموز قيصې وي چې پکښې د ځناورو کردارونه موجود وي اوځنې وخت پکښې ځناور لکه د انسانانو په شان خبرې هُم کوي. "اس میں بالعموم پرندوں اور جانوروں کے وسیلے سے کوئی داستان بیان کی جاتی ہے۔"[16] تږے کار غۀ، لالچي سپے، مېږے او کُرکوړۍ او انګور تراوۀ دي وغېره د دا قسمه قيصو غوره مثالونه دي.

6- حماسه/رزميه(Epic): حماسي يا رزميه قيصې هغه قيصې دي چې پکښې يو هيرو وي او هغه پرله پسې کاميابۍ حاصلوي په دې قسمه قيصو کښې د رومانيت عنصر کم وي او دا قسمه قيصې په حقائقو اډانه لري لکه په پښتو کښې د علي حېدر جوشي ليکلې" قيصه د رامداد خان" يا لکه د عجب خان افريدي قيصه او دبخت منېر قيصه وغېره وغېره د حماسه يا رزميه قيصو غوره نمونې دي. ځنې پوهانو د رزميه قيصو د پاره د ساګا(Saga) لفظ هُم استعمال کړے دے لکه چې ډاکټر عابد قاضي ليکي، "ساگا قدیم نارس زبان کا لفظ ہے جس کے معنی "وہ جو کہا گیا" کے ہیں یہ داستانیں بہت عمدہ انداز میں سکنڈے نیویا میں پائی جاتی ہیں۔رزمیہ داستانیں ان کا ایک حصہ تصور کی جاتی ہیں"[17]

په دغه پورتنو اصطلاحاتو کښې ځنې اصطلاحات داسې دي چې پکښې په څۀ نه څۀ شکل کښې د ما فوق الفطرت عناصرو نشاندهي شوې ده.

زما د پي. ايچ. ډي په مقاله کښې ما د پښتو په منظوم روماني قيصو کښې د تهذيبي او ثقافتي عناصرو تنقيدي جائزه اخېستې ده چې پکښې د طبعزاد روماني قيصو سره سره د نورو ژبو نه ترجمه شوې رومانونه هُم شامل دي. په ترجمه شوو رومانونو کښې ما فوق الفطرت عناصر په ګڼ شمېر کښې شتون لري ولې د پښتو طبعزاد رومانونه هُم د دغه اثراتو نه محفوظ نۀ دي. چرته چې ماته په طبعزاد رومانونوکښې مافوق الفطرت عناصر مخې ته راغلل نو هغه رومانونه مې ددې مقالې د پاره منتخب کړل. د پښتو طبع زاد روماني قيصې که څومره هُم ددې خاورې او ددې

ټولنې په کلتوري رنګ کښې رنګ دي ولې بيا هُم د مافوق الفطرت عناصرو نه بچ نۀ دي پاتې شوي په ځېنو قيصو کښې خوښکاره مافوق الفطرت عناصر موندلے شي چې تفصيل ئې څۀ په دې ډول دے۔

**مومن خان شيريني:** د مومن خان شېرينۍ روماني قصه ددې خاورې او ددې کلتور پېداوار دے، او شاعر تر خپله وسه دا کوشش کړے دے چې ددې قيصې د مقاميت تر مخه کردارونه او واقعات هُم هغسې ورغوي ولې بيا هُم پکښې مافوق الفطرت عناصر جوت دي لکه چې جمال سنګر ليکي،

پـــــه دې ښـــــار اموختـــــه شـــــوې څـــــۀ بـــــلا ده
د هغـــــــــه د لاســـــــه جـــــوړه واوېـــــلا ده
د بادشـــــاه ســـــره ئـــــې کـــــړے دا اقـــــرار
يـــــو بنـــــده بـــــه راکـــــوې مـــــه کـــــړه انکـــــار
يـــــو بنـــــده بـــــه راکـــــوې پـــــه هـــــره ورځ
پـــــه دې نـــــور ښـــــار بـــــه دې نـــــۀ کـــــوم غـــــرض[18]

په پورتنو شعرونو کښې د ښامار کردار ،ګفتار او غوښتنې هغه داستانوي عناصر دي کوم چې عموماً د پښتو په ترجمه شوو رومانونو کښې موندے شي۔او دا روايت د نن نه قريباً څلور نيم زره کاله زوړ دے لکه چې ډاکټر ګيان چند ليکي، ''مصر ميں 2300 ق م ميں کشتی شکستہ کا ملاح کی کہانی ميں لکھی گئی (6) ايک پيپرس (Papyrus) پر لکھا ہوا ايک مسودہ لينن گراڈ ميں محفوظ ہے۔ اس ميں ايک داڑھی والے عجيب الخلقت سنہرے اژدھے کا ذکر ہے جو آدمی کی طرح بولتا ہے''[19] که مونږ يوناني ډرامه ''Oedipus Rex'' ته وګورو کومه چې Sophocles ليکلې ده په هغې ډرامه کښې د Sphinx کردار هُم د مومن خان شېرينۍ په رومان کښې د ښامار کردار سره سمون خوري۔هرکله چې د Sphinx (ابوالهول) شکل داسې وي چې بدن ئې د زمري وي سر ئې د زنانه په شکل وي۔د Sphinx (ابوالهول) مجسمه اوس هُم د مصر په ښار تهبس کښې د احرام مصر سره خوا کښې موجوده ده۔

دا ښامـــــار چـــــې راروان شـــــو د ځنګلـــــه
بـــــاد ســـــيلۍ بـــــه ترېنـــــه مخکښـــــې لګېدلـــــه

نــــرے بــــاد بـــه لګـــــېدۀ دا عــــــلامه وه
د ښــــامار د راتلــــــو دومــــره هنګامـــــه وه[20]

د ښامار د راتلو سره د سیلۍ یا نرې باد لګېدل د ښامار زورورتیا مقصود دے خو عقل دې خبرې منلو ته نۀ تیارېږي چې ګڼې خامخا دې داسې وشي دا یو علامت خو کېدے شي ولې ممکنه نۀ شي کېدے۔ په داستان کښې د تجسس پېدا کولو اوبیا د مثالي کردارونو په حواله که مونږ پورته لیکلي شوو شعرونو ته غور وکړو نو مونږ په اسانه اندازه لګولے شو چې که یو خوا د ښامار کردار دومره هېبت ناک ښودلے شوے دے چې دهغه د راتګ څۀ علامات دي نو بل خوا د مومن خان کردار هُم مثالي دے۔ دا د داستان ګو یو کمال او هنر دے چې د خېر او شر تر مېنځه د کردارونو توازن برقرار وساتي۔
دلته دا خبره هُم د غور قابله ده چې ښامارد روزانه په بنیاد د یو بنده مطالبه کوي دا بعید از عقل خبره ده،بله دا چې یوبا دشاه دومره کمزورے ښودلے شوے دے چې هغه دښامار د جنګ طاقت نه لري حالانکې *"انسان اشرف المخلوقات ہے اس لئے داستان گو نے اسے ثابت کر دکھایا کہ واقعی انسان تمام مخلوقات پر حاوی ہے اسے کوئی طاقت تسخیر نہیں کر سکتی۔ وہ اپنے زور بازو اور ذہنی صلاحیتوں سے جنوں اور پریوں کو قابو کر سکتا ہے "*[21]او دا ځکه چې وروستو مومن خان په یو اځې ځان د ښامار مقابله وکړه او خلق ئې د دغه بلا نه خلاص کړل.لکه چې جمال سنګر لیکي،

د تنــــــدي پـــــه میــــــنځ ئـــــې وویشـــــتۀ ښـــــامار
د زړګــــــي تــــــر ســــــره غشــــــي کــــــړۀ رفتــــــار[22]

**یوسف خان شېر بانو:**

دیوسف خان شېر بانو رومان هُم د پښتني کلتور عکاسي کوي او تعلق ئې نبغ په نبغه ددې خاورې سره دے.زیات تره کردارونه او واقعات ئې په حقیقت اړانه دي ولې بیا هُم پکښې مافوق الفطرت کردارونه په نظر راځي لکه چې علي حېدر جوشي لیکي ،

یـــــو جــــوګي ده یــــو ډېــــوه چــــــرته مونــــــدلې
بېګـــــا شــــپه ئـــې وه جمــــاعت کښــــې لګــــولې
مــــا لامبــــل پــــه چــــر چــــوبۍ کښــــې شــــاه خوبــــان
مــــلا تړلــــــي ورلــــــــه راغلــــــل دوه دېــــوان

دې دېوانـــو ورتـــه وې کـــۀ ځـــۀ خــدمت وي
مــــونږه اوس ورپســـې ځـــو کـــه اجـــازت وي
دې جـــوګي ورتـــه ښـــکاره کـــــړه يـــو زنـــان
د پالنـــــګ ســـــره راوړۍ دا زمــــــان
دېـــوان لاړل اے صاحـــــبه مـــــا کتـــل
هغـــه جونـــه ئـــې ورلـــــه راوړه پـــه خنـــدل[23]

د يوسف خان شېر بانو قيصه علي حېدر جوشي ليکلې ده ـ ددې قيصې واقعات او کردارونه د پښتون کلتور په بساط اډانه لري ولې بيا هُم په دې رومان کښې د جوګي او دېوانو ذکر د مافوق الفطرت عناصرو غمازي کوي ـ د علي حېدر جوشي ليکلي شوي دا شعرونه د "د اله دين ډيوه" نومې قيصې يا واقعې طرف ته اشاره ده ـ لکه چې ډاکټر اباسين يوسفزے په خپل کتاب "قيصو ماره ترور" کښې ليکي،

> "ـ ـ ـ مور ډوډۍ او اوبۀ راوړې، ناځاپي اله دين ته ځۀ خيال راغے هغه د ځان سره راوړې ډيوه ومږله ،د ډيوې سره لاس سولول وو چې د هغې نه لوګے راووتۀ او چار چاپېره خور شۀ په لوګي کښې يو ډېر غټ دېو راښکاره شۀ"[24]

**قيصه د ښاروان او کاروان:**

روخان يوسفزي چې د "ښاروان او کاروان" په نوم کومه قيصه ليکلې ده په هغې کښې هُم څۀ ناشونې غوندې واقعات مخې ته راځي ـ لکه يو ځائے کښې مصنف دښاروان د خُلې بيان څۀ دا شان بيانوي ،

يـــو شـــپه وم پـــه دې ســـوچ کښـــې ګـــــرفتار
ناڅـــاپي مـــې پـــه نظـــر شولــــــو يـــو غـــار
ووجـــوړ شـــوے دغـــه غـــــر کښـــې قـــدرتي
راوچـــت مـــې دا ماشـــوم کړلــــــو دســـتي

دا ماشوم مې هغه غار ته ور دننه
هُم مې کېښوده د غار په خُله کښې غنه[25]

دلته هُم ناشونې غوندې حالات ذکر شوي دي چې محمود خان خپل ماشوم زوے په يو غار کښې بند کړه او بيا ئې داسې حالت کښې پرېږدي چې هېڅ اسره ئې نه وي .دلته ذهن دې منلو ته تيار نۀ دے چې څنګه يو پلار خپل ماشوم زوے په داسې حالت کښې په غار کښې کېښودو چې دغه وخت کښې ئې پلار ته څۀ خطره هُم نه وه خو ولې د مصنف د وېنا مطابق سپين ږيرے د دې نه مخکښې وائي چې ،

سوچ مې وکړو چې ماشوم کښې خو لا ساه ده
که ژوندے ئې ښخوم نو هُم ګناه ده
که ئې ځان سره بوځم نو دے به مړ شي
بې د موره به دا ګل درنګ له چيچړ شي [26]

سپين ږيرے وائي چې ما دا سوچ وکړو چې دا ماشوم چرې هُم ژوندے نۀ شي پاتې کېدے که د ځان سره ئې بوځم نو بې موره ماشوم دے مړ به شي نو ځکه ئې دے په يو غار کښې بې اسرې پرېښو۔روخان يوسفزے مخکښې د خاروان قيصه څۀ داسې بيانوي چې ،

چې شوم غار ته ورنزدې په کوم ساعت
شوم حېرانه په کارونو د قدرت
زر مې سر په سجده کېښودو الله ته
په ثنا شومه شروع غني مولا ته
هغه وخت ماته کرم د خداے معلوم شو
په نظر مې چې ژوندے هغه ماشوم شو[27]

د ماشوم پالنه او خصمانه ډېر د زړۀ چاودون کار دے.په وخت د ماشوم د مناسب خوراک څښاک، صفائي او دارو دُرملو خيال ساتل پکار وي او دا کار صرف د ماشوم سَکه مور کولے شي ولې بابا چې کومه قيصه کوي چې ما د يوې ورځې ماشوم په غار کښې بغېر د مور نه يکې يواځې د الله تعالي په اسره پرېښودو اوچې زۀ دوه کاله پس راغلم او په غار کښې مې وکتل نو ماشوم صحيح

سلامت وۀ۔ دا خبره ماورا, العقل ده البته د يوې معجزې نه کمه نۀ ده ځکه چې الله تعالي ته د اسبابو هېڅ ضرورت نشته۔

**مثال صداقت:**

اوس که مونږ د تنګي د عبدالمجيد ليکلې شوې قيصې " مثال صداقت" ته نظر وکړو نو په دې قيصه کښې هُم مافوق الفطرت عناصر په نظر راځي۔ عبدلمجيد د زرګر په باره کښې ليکي چې دے د دهلي وو ،ولې زرګر چې کله قيصه کوي نو هغه پکښې د پښتونخوا د درېو خانانوذکر ځۀ داسې کوي ،

دې زرګـــــر وې پخــــوا درې تنـــــه خانــــــان وو
نالیــــــدلي يــــو تـــــر بلـــــه عاشقــــــان وو
د يــــو نـــــوم وو ســــــالارزے خــــاص د ډګـــــر وو
د بـــــل نـــــوم وو خورشـــــيد خــــان د هشـــــتنګر وو
دادرېـــــم وو پـــــه تهــــانه کښـــــې نقــــاب خــــان
يـــــو تـــــر بلـــــه عاشـــــقان وو صـــــادقان [28]

د پورته ذکر شوو مقاماتو نه ددې قيصې د مقاميت اندازه لګي۔ او مونږ دا نۀ شو وئېلے چې ګنې دا قيصه ترجمه شوې ده بلکې دا هُم لکه دځنې نورو قيصو طبع زاد ده چې د کردارونو او واقعاتو تعلق ئې ددې خاورې سره دے۔

پېښــــور تــــه پـــه کالــــــو پســــې روان شــــول
زمــــا وروره ورداخــــــل پــــه يــــو مکــــان شــــول
عجيـــــــــبه وه هـلــــــــــته ولاړه يـــــوه ونــــــه
غــــورږ پــــرې کېـــــږده خبـــــروم دې زۀ خــــــادمنه
هغـــــه ونـــــه کښـــــې وو ناســـــت يـــــو دوه مــــــارغان
دغــــه يـــو مارغـــــه دې بـــل تــــه شــــو ګــــــويان
ورتــــــه ئــــــې اووې مارغـــــه وروره غــــورږ کـــــږه ماتـــــه
زۀ قيصــــــه ددې خـــــــانانو کــــــــوم تاتــــــه [29]

په پورته ليکلي شوي شعرونو کښې د ناطق مارغانو ذکر راغلے دے کوم چې عموماً په ترجمه شوو داستانونو کښې موندلے شي سعيد احمد په خپل کتاب "داستانیں اور حیوانات" کښې ليکي چې ،

"**ترجمه:**" ناشوني عناصر ناشنا مخلوقات خبرلوثي مارغان بوګنوکي او حېرانونکي دکوډو منترو خبرې دمينې محبت ساز کړے ماحول دجنګ جګړو واقعات دجنسياتو ترکې او غېر امکاني واقعات دنړي وال کچ داستانونو مشترک توکي دي. اګرچې څه لږ ډېر اختلاف به ارومرو لري خو ولې دې سره سره دهر داستان اصل مدغا هُم يوه وي او هغه داچې قاري ته ذهني سکون او قلبي راحت ملاو شي"[30]

خو لکه څنګه چې ما مخکښې ذکر کړے دے چې شاعر بعضې وختونو کښې په شعوري توګه هُم داسې کردارونه راپېدا کړي د کومو په وجه چې نۀ صرف په قيصه کښې رنګيني او دلچسپي پېدا شي بلکې څنې حالاتو کښې د قيصې مخکښې بوتلو د پاره داسې قسمه کردارونو ته محتاجه شي .ګيان چند په خپل کتاب "اردو کی نثری داستانیں " کښې ليکي چې،

" **ترجمه:**په يوناني او هندوستاني قيصو کښې توپير دادے چې په يوناني قيصو کښې به ځناور صرف د ځناور کردار ادا کولو .هر کله چې په هندوستاني قيصو کښې ځناور د انسان کردار کوي.د هندوانو عقيده داده چې بعضې وخت انسان د ځناور په شکل هُم راځي ،ددې وجې نه هغوي د قيصو ځناور د انساني عقل او پوهې سره منسوب کوي. د قيصې مرکزي کردار څۀ وخت هُم د ځناور مدد کولے شي او هغه بې زبانه ځناور په سخت وخت کښې د هغه په کار راتلے شي. "[31]

په پورتنو شعرونو کښې هُم د مارغانو خبرې د مافوق الفطرت عناصرو په زمره کښې راځي او شاعر په شعوري توګه د دې کردارونو نه کار اخېستے دے او د خانانو خپلو کښې د رښتونې دوستۍ او د يو بل د پاره د قربانۍ ورکولو جذبه ئې په ګوته کړې ده.

**فتح خان رابيا:**

د فتح خان رابيا قيصه که يو خوا ددې علاقې د کلتور او رواياتو هنداره ده نو بل خوا پکښې ما فوق الفطرت عنصر څۀ په دې ډول جوت دے لکه چې ملا نعمت الله ليکي،

تقـــدير ګـــوره يـــو فقيـــر چـــې باکمـــال وۀ
دۀ روژه نيولـــــــــــې وه د لســـــو کـــــالو

دغـــــه ورځ ئـــــې د افطــــــار وه مبارکــــــه
راروان شــــه قندهـــــار لـــــره بـــــې شـــــکه[32]

دلته د فقیر دلسو کالو د روژې ذکر شوے دے نوروژه د ارکان اسلام درېم رکن دے. دا خو کېدے شي چې لس کاله مسلسل روژې اونیسي او د اسلامي احکاماتو مطابق د سحر نه واخله تر ماښام روژه وي او د ماښام د بانګ سره روژه ماته شي، ولې شاعر چې څۀ لیکلي دي چې ددۀ لس کاله روژه وه او دغه ورځ ئې د افطارۍ وۀنو ددې اجازت نۀ خو مذهب ورکوي او نۀ عقل دې خبرې منلو ته تیار دے چې لس کاله انسان بغېر خوراک سخاک ژوندے څنګه پاتې شي.

همســـا واخلـــه کـــړه ئـــې بېـــرې تـــه ګـــزار
چـــې تـــرې تـــوي کـــړې پـــه ګـــذار پـــانې بېســـيار
چـــې هــــــر څـــومره پـــانې پرېـــوتې پـــه ښـــکته
زامـــن دومـــره بـــه خـــدائے درکـــړي نېکســـيرته[33]

عموماً په اولسي قيصو کښې داسې قسمه خبرې مخې ته راځي او په پښتنه ټولنه کښې خلق د اولاد او خصوصاً د نارینه اولاد د پاره د پیرانو فقیرانو نه دعا غواړي. خو دلته دا خبره ماوراءالعقل ده چې د امسا په ګزار د بېرې نه څومره پانې پرېوتې هُم هغه هومره زامن به خدا ے درکوي.

**دلے شهی:**

دلے شهی قیصه صدر خان ختک لیکلې ده او تر خپله وسه ئې پکښې د پښتون کلتور او پښتني رواياتو لمن کلکه نیولې ده، ولې بیا هُم یو ځائے کښې د بوډۍ د خلې بیان څۀ داسې لیکي،

زۀ هغـــــه يـــم چـــې کـــه ســـحر ولـــولمـــــه
ســـړي څـــۀ چـــې پېـــري دېـــو بـــه راولمـــــه
کـــه بـــالا پـــه اسمـــــــان پاســـه فرشـــتې دي
د پـــــاکۍ د طهــــــــارت ئـــې سرشـــتې دي
پـــه دعـــــا پـــه تســـبيحات بـــه ئـــې اے جانـــه
زۀ راکـــــوز کـــــړمه بـــې شـــکه د اســـمانه

تـــهٔ معلــــوم کـــړه چـــهٔ هُــم اوس ئـــې مســـخر کـــړم
کمتـــرين چـــاکر ئـــې ســـتا د غـــولي در کـــــړم[34]

په پورتنو شعرونو کښې صدر خان خټک د بوډۍ د خلې بيان ليکلے دے چې هغې دا دعوي' کوله چې زهٔ په خپل علم سره دېوان او ښاپيرۍ هُم مسخر کولے شم. دلته دا خبره هُم د يادولو وړ ده چې پښتانهٔ په داسې قسمه عملياتو يقين هُم کوي اوپه ټولنه کښې د داسې قسمه دعوې کولووالا وګړي هُم موجود وي، پښتانه سحر، جادو ،پېريان ،دېوان او هرقسم توهُمات مني ،زيارتونو او پيرانو له ځي دم درود تعويزونه او ساختونه کوي - او په دې کارونو کښې د کلي بوډۍ ګاني ډېرې ماهره وي نو کېدے شي چې صدر خان خټک هُم په شعوري توګه د بوډۍ دا کردار په ګوته کړےوي .يا دا چې پښتانهٔ متل کوي چې "مريض دې ښهٔ شي،د چا په دارو "نو د شهي د پټ مرض معلومولو د پاره بوډۍ هُم خپل کردار ادا کولو.

ددې ټول بحث نتيجه دا شوه چې پښتنو شاعرانو يا خود داستانونو نه اثر اخېستے دے يا ئې په شعوري توګه قيصه کښې د خوند او تجسس پېدا کولو په غرض په طبعزاد روماني قيصو کښې مافوق الفطرت عناصر شامل کړي دي لکه د "مومن خان شيريني" په رومان کښې د ښامار کردار او لکه د انسانانو خبرې کول ، د"يوسف خان شېربانو" په رومان کښې د جوګي کردار او دېوان رابلل مافوق الفطرت عناصر دي دغه رنګ په "ځاروان او کاروان" قيصه کښې د بابا خپل ماشوم زوے يکي يوائې په غار کښې بندول او دوه کاله پس هغه ژوندے ليدل ماوراء العقل خبره ده. هُم دغه رنګ د جمال سنګر په ليکلې شوې قيصه "مثال صداقت" کښې د مارغانو خبرې کول يا د "فتح خان رابعه" په رومان کښې د فقير لس کاله په يو مخ داسې روژه نيول چې لس کاله بالکل خوراک سخاک نهٔ کوي مافوق الطبيعت خبرې دي. بل خوا هُم د "فتح خان رابعه" په رومان کښې د فقير دا وينا چې په امسا د ببرې نه ځو پانې راارتاو کړې نو هومره زامن به خدا ے درکړي، مافوق الفطرت عناصر دي. دغه رنګ د صدر خان خټک ليکلې شوي رومان "دلے شهي" کښې د بوډۍ دا دعوي'کول چې زهٔ به په خپل سحر جادو سره پېريان دېوان راحاضر کړم ،مافوق الفطرت عناصردي .

## حوالې:

1 خیال بخاري ،مقدّمه مشموله،دلے شهي، صدر خان خټک،پېښور، پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي، س ن 7مخ

2 ساجد محمد شائق،ځرګنده خزانه (اوله برخه) مردان، پښتو ادبي ټولنه تحصیل تخت بهائي،2015ء،232 مخ

3 تنویر حسین، پروفیسر،اصناف ادب اردو،لاہور، مقبول اکیڈمی سرکلر روڈ اردو بازار،2009ء، ص136

4 وقار عظیم، سید، ہماری داستانیں،لاہور، اردو مرکز،1962۔ ص 25

5 وقار عظیم، سید، ہماری داستانیں، ص26

6 نورالحسن نقوی، تعارف، مشمولہ، فسانہ عجائب، رجب علی بیگ سرور، دہلی، قومی کونسل برائے فروغ قومی زبان، طبع چہارم،2009ء، ص8

7 محمد عبداللہ خویشگی، فرہنگ عامرہ، اسلام آباد، مقتدرہ قومی زبان، طبع دوم،2007ء، ص537

8 Qureshi,Bashir A,Kitabistan new millennium Practical Dictionary Lahore, Urdu Bazar ,April 2004, P-791

9 صدر خان خټک، دلے شهي، (مقدمه خیال بخاري) پېښور، پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي،س ن 88مخ

10 ابراہیم مصطفیٰ ودیگر، مولفین المعجم الوسیط، مترجمین، ابن سرور اور عبدالنصیر، لاہور، مکتبہ رحمانیہ غزنی سٹریٹ،2004ء، ص30

11 Badakhshani,Practical combined dictionary (English to Urdu),Lahore, Azhar publishers, 2001,P-483

12 گیان چند جین، ڈاکٹر، اردو کی نثری داستانیں (اضافہ شدہ نیا ایڈیشن) کراچی، انجمن ترقی اردو پاکستان، اشاعت سوم،2014ء، ص40

13 Qureshi,Bashir A,Kitabistan new millennium Practical Dictionary Lahore, Urdu Bazar ,April 2004, P-313

14 عبدالشکور، ڈاکٹر اور ڈاکٹر نجبہ عارف، فینٹسی: بنیادی مباحث، مشمولہ، اردو ریسرچ جرنل (سہ ماہی)، اپریل۔جون 2020، سرپرست اعلیٰ پروفیسر ابن کنول، دہلی، دی عالیہ کوچنگ انسٹیوٹ پھلوان چوک بٹلا، 2020ص30

15 اسیر منگل، پشتو افسانے کے سو سال (تحقیق و تنقید)، پشاور، منگل کتاب کور، اشاعت دوم، 2017ء ص13

16 فرمان فتح پوری، ڈاکٹر، اردو کی منظوم داستانیں، کراچی، انجمن ترقی اردو پاکستان، اشاعت دوم،2002ء ص42

17 عابد قاضی، ڈاکٹر، اردو افسانہ اور اساطیر، ملتان، شعبہ اردو ذکریا یونیورسٹی، 2002ء ص39

18 جمال سنګر، ډېر غم قیصه د مومن خان شېرینۍ، پېښور، رحمان ګل پبلشر قصه خوانۍ، س ن، 38 مخ

19 گیان چند جین، ڈاکٹر، اردو کی نثری داستانیں (اضافہ شدہ نیا ایڈیشن) کراچی، انجمن ترقی اردو پاکستان، اشاعت سوم،2014ء، ص 42

20 جمال سنګر، ډېر غم قیصه د مومن خان شېرینۍ 35 مخ

21 تنویر حسین، اصناف ادب اردو، لاہور، مقبول اکیڈمی سرکلر روڈ چوک اردو بازار، 2009ء، ص 129

22 جمال سنگر، ډېر غم قیصه د مومن خان شېرینۍ ، پېښور، رحمان ګل پبلشر قصه خوانی، س ن، 40 مخ

23 علي حېدر جوشي، قیصه د یوسف خان شېر بانو ، مردان، جوشي پبلشرز،جنوري 2018ء،29،30 مخونه

24 یوسفزے،اباسین،ډاکټر،قیصوماره ترور،پېښور،ادب محل ستي ټاور کابلی، 2021ء، 83مخ

25 دیار خان خاموش،قیصه د ښاروان او کاروان، پېښور، زیب آرټ پبلشرزمحله جنګي، 1986ء، 46،47 مخونه

26 دیار خان خاموش،قیصه د ښاروان او کاروان، 46 مخ

27 همدغه 49 مخ

28 عبدالمجید ، مثال صداقت، پېښور، میاںحاجي عبدالحالق فضل مالک تاجران کتب، بازار قصه خواني،س ن 7 مخ

29 عبدالمجید ، مثال صداقت، 16،17 مخونه

30 سعید احمد، داستانیں اور حیوانات (اردو داستانوں میں حیوانات کی علامتی حیثیت)، اسلام آباد، مقتدرہ قومی زبان، 2012ء، ص 14

31 گیان چند جین، ڈاکٹر، اردو کی نثری داستانیں (اضافہ شدہ نیا ایڈیشن)، کراچی، انجمن ترقی اردو پاکستان، اشاعت سوم 2014، ص 50

32 نعمت الله، ملا ، قیصه د فتح خان قندهاري افغاني، پېښور، میاں حاجي محمد عبدالخالق تاجران کتب قصه خواني، س ن،4 مخ

33 نعمت الله، ملا ، قیصه د فتح خان قندهاري افغاني، 5مخ

34 صدر خان خټک، دلے شهی، (مقدمه خیال بخاري) پېښور، پښتو اکېډمي پېښور یونیورستي،س ن 78مخ

## References

1. Khyal Bukhari,Muqadima Mashmoola,Dalay Shahai,sadar Khan Khatak, Pekhawar, Pukhto Academy Pekhawar University,SN,P.7
2. Sajid Muhammad Shaiq,Sarganda Khazana,(awala barkha) Mardan,Pukhto adabi Tolana tehsil Takht Bhai,2015, P 232
3. Tanveer Hussain,Professor,Asnaf e Adab Urdu,Lahore,Maqbol academy sarkular road Urdu bazar,2009,P.136
4. Waqar Azeem,Syed,Hamari Dastanain,Lahore,Urdu Markaz,1962,P25
5. Waqar Azeem,Syed,Hamari Dastanain,P26
6.Noor Ul Hasan Naqvi,Taaruf, mashmoola,Fasana e Ajaeb,Rajab Ali Biag Sarwar ,Dehli,Qumi Counsel braie forogh qumi zuban,(taba chaharam),2009,P8
7.Muhammad Abdullah Kheshki ,Fahang e Amira,Islamabad,Muqtadera qumi zuban (Taba e dom),2007,P537
8. Qureshi,Bashir A,Kitabistan new millennium Practical Dictionary Lahore, Urdu Bazar ,April 2004, P-791
9. Sadar Khan Khatak, Dalay Shahai,(Muqadima Khyal Bukhari) Pekhawar, Pukhto Academy Pekhawar University,SN,P88
10,Ibrahim Mustafa o degar ,Muallifeen ,Almujam Ul Waseet,Mutarjameen,Ibni Sarwar aur Abdul Naseer,Lahore, Maktaba e Rahmania,Ghazni Street,2004,P30
11. Badakhshani,Practical combined dictionary (English to Urdu),Lahore, Azhar publishers, 2001,P.483
12,Gian Chand Jeen,Urdu ki Nasri Dastanin,Karachi, Anjuman e Taraqi Urdu Pakistan,(Eshaat e Dom),2014,P40
13. Qureshi,Bashir A,Kitabistan new millennium Practical Dictionary Lahore, Urdu Bazar ,April 2004, P-313
14.Abdul Shakoor,Doctor,aur Doctor Najeeba Arif,Fantasy:Bunyadi Mabahis,Mashmoola,Urdu Research Journal (she Mahi)April-June2020,Sarparast e Ala Professor Ibn E kanwal,Dehli The Aalia coaching Institute Pehlawan chok Batla,2020,P30
15.Aseer Mangal,Pashto afsanay kay sao saal(Tehqeeq o Tanqeed) Peshawar, Mangal Kitab kor,Eshaat e dom 2017,P13
16. Farman Fateh Poori,Doctor,Urdu ki manzoom dastanain,Karachi, Anjuman e Taraqi Urdu Pakistan,(Eshaat e dom),2002,P42
17.Abid Qazi,Doctor, Urdu Afsana aur Asaateer,,Multan,Shuba e Urdu Zakareea University,2002,P39
18.Jamal Sangar,Deer Gham Qisa dh Momin Khan Sherinai,Pekhawar,Rahman Gul Publisher Qissa Khawani,S N P38
19. Gian Chand Jeen,Urdu ki Nasri Dastanain,Karachi, Anjuman e Taraqi Urdu Pakistan,(Eshaat e Dom),2014,P42
20. Jamal Sangar,Deer Gham Qisa dh Momin Khan Sherinai,Pekhawar,Rahman Gul Publisher Qissa Khawani,S N P35
21.Tanveer Hussain,Professor,Asnaf e Adab Urdu,Lahore,Maqbol academy sarkular road Urdu bazar,2009,P.129
22. Jamal Sangar,Deer Gham Qisa dh Momin Khan Sherinai,Pekhawar,Rahman Gul Publisher Qissa Khawani,S N P40

23. Ali Haidar Joshi,Qisa dh Yousaf Khan Sherbano,Mardan, Joshi Publishers,January 2018,PP29-30
24.Yousafzay,Abaseen,Doctor,Qisomara tror,Pekhawar, Adab Mehel city tower kabalai,2021,P83
25.Diyar Khan Khamosh Qisa da Sarwan ao karwan, Pekhawar,Zaib Art Publishers Mohallah Jangi,1986,PP46-47
26. Diyar Khan Khamosh Qisa da Sarwan ao karwan,P46
27. Humdagha,P49
28.Abdul Majeed,Misal e Sadaqat,Pekhawar,Mian Haji Abdul Khaliq,,Fazli Malik,Tajeran e Kutab bazar qissa Khwani,SN,P.7
29, Abdul Majeed,Misal e Sadaqat,PP16-17
30. Saeed Ahmad,Dastanain aur Haiwanat,(Urdu dastanoon main haiwanat ki alamati haisiat)Islamabad,Muqtadera qumi zuban,2012,P.14
31. Gian Chand Jeen,Urdu ki Nasri Dastanain,Karachi, Anjuman e Taraqi Urdu Pakistan,Eshaat e Dom,2014,P50
32.Nimat Ullah, Mola,Qissa Fatih Khan Qandahari Afghani, Mian Haji Abdul Khaliq,,Fazli Malik,Tajeran e Kutab bazar qissa Khwani,SN,P4
33. Nimat Ullah, Mola,Qissa Fatih Khan Qandahari Afghani,P5
34. Sadar Khan Khatak, Dalay Shahai,(Muqadima Khyal Bukhari) Pekhawar, Pukhto Academy Pekhawar University,SN,P78